مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کره کتونکی: تمهید سیلاني
۲۰۱۹/۱۰/۲۵

# داکتر زمان ستانېزی د کره کتنې په میزان کې!

د ښاغلي داکتر زمان ستانيزي ليکنې له ډېر پخوا څخه د ګوګل پر پاڼو ګورم او لولم يې، دی کله ځان مؤرخ، کله هم د اسلامي علومو متخصص، کله هم د ژبپوهنې متخصص، کله هم د سياسي علومو متخصص او کله هم ځان د نورو علومو متخصص ګڼي. دی د (( زن، زر، زور و زمین؛ زورانه های ذهنیت ظلمانی جامعه افغانستان )) په ليکنه کې ځان د پاسيفيکا- کليفورنيا په پوهنتون کې د اسلامي مطالعات استاد ګڼي. د (( تفاوت بین شعار و عمل در بزګداشت دوره امانیه)) په ليکنه کې ځان د کليفورنيا د دولتي پوهنتون د سياسي علومو استاد ګڼي. د (( ریشه یابی کلمه افغان از دیدګاه زبانشناسی، اسطوره شناسی و تاریخ)) په ليکنه کې ځان د ژبپوهنې متخصص ګڼي. دې ورته په خپلو لسګونو نورو ليکنو کې ځان د بېلابېلو علومو مختصص يادوي. کله چې ښاغلي ستانيزي د تاريخ په برخه کې ليکنې کړي، دېرى يې زموږ د هېواد د پېژندل شويو مؤرخينو لخوا نقد شوي او دی يې د هېواد د تاريخ پر وړاندې په خيانت تورن کړی. دې ته ورته په نورو برخو کې هم همدا ډول برخود ورسره شوی... خو کله چې ما د نوموړي هغه ليکنې ولوستې چې د ژبپوهنې او په ځانګړې توګه يې د پښتو ژبې له ادرس څخه ليکلې وې، نو يوې ژبپوهنيزې کره کتنې ته اړينه اړتيا ليدل کېده،تر لوستونکي د ستانيزي صاحب په ناسمو ليکنو او څېړنو و نه غوليږي. ما هم د ښاغلي ستانيزي صاحب يوه ليکنه ((د پښتنو او کوردانو ورته سرنوشت د تاريخ په اوږدو کې)) د ژبپوهنې په رڼا کې ( مشت نمونه خروار ) تر کره کتنې لاندې نيولې چې تاسو ته يې ستونزې او تېروتنې در وپېژنم . ښاغلي ستانيزي د ژبپوهنې له اړخه داسې تېروتنې کړي،چې يوې ليکنې مشروعيت تر پوښتنې لاندې را وستلی شي. په دې برخه کې لومړی د ستانيزي صاحب هغه ليکنه را اخلم چې ما تر کتنې لاندې نيولې، تر څول لوستونکي لومړی د هغه ليکنه ولولي او وروسته يې تېروتنو ته متوجه شي.

## د پښتنو او کوردانو ورته سرنوشت د تاریخ په اوږدو کی:

۲۸ میزان ۱۳۹۸

ډاکتر *زمان ستانیزی

کوردانو د خپل څو زره کلن تاریخ په اوږدو کی له یوی خوا د صلاح‌الدین ایوبی په شان زړور نومیالیان اسلامی تمدن ته وړاندی کړی، له بلی خوا یی سترو تصوفی طریقو په سبب د معرفت لاره روښانه کړی چی د هغو له مخی کوردی ثقافت او فرهنګ د اسلامی تمدن په وده کی د پام وړ ونډه اخیستی. له بلی خوا د کوردانو هویت همیشه د پارسی، ترکی، او عربی مجاورو اولسونو له تاثیر، تبعیض، تهدید او حتی تحقیر او سپکاوی لاندی لاس او پښی وهلی.

د کوردانو تاریخ د غم د قلم په رنګ لیکل شوی. څه ناڅه په تېرو څو پېړیو کی کوردان د دوه رقیبو ترکی نژاده دولتونو تر مینځ څو څو ځلی ځپل شوی او ربړول شوی دی. د مشترکی سنی په ۱۵۳۴ او ۱۵۳۵ کلونو کی چی صفوی شاه تهماسپ له عثمانیانو نه د جګړی په ډګر کی ماته وخوړه، نو د کوردانو په کلیو او باندو یی اوربل کړ او په زرګونه کوردان یی په عامو قتلونو کی له تیغه وایستل. له ۱۵ زره تر ۴۰ زره بی کوره شوی کوردان یی له خپل غرنی ټاټوبی نه سلګونه کیلومتره لری آزربایجان ته ولېږدول چی وروسته بیا د هغو یو زیات شمیر د صفوی شاه عباس په امر د مشهد په شمال کی دایمی استونګی ته مجبور شول.

په ۱۶۰۹ او ۱۶۱۰ کلونو کی اورمیه جهیل ته څېرمه امیرخان لیپزرین د دیم دیم غره پر سر مستحکمه کلا جوړه کړه خو لمړی شاه عباس د حاتم بیګ په مشری لښکر ور واستاوه او له نهو میاشتو جګړو وروسته یی بلاخره کلا ونړوله او په حصار او شاوخوا ښارګوټو کی یی د کوردانو لوی عام قتل پیل کړ چی د کوردی اسکندر بیګ منشی په ستاینو او په عالم آرای عباسی کی یی بیشمیره غملړلی حکایتونه بیان شوی.

داسی بربېښی چی د ترکیی د اوسنی رژیم هدف هم دغو تاریخی ترخو واقعیتونو ته ورته وی چی غواړی د سوریی د شمال کوردان د ترکیی له سرحد نه لری جنوب ته ولېږدوی او ځمکی او کورونه یی هغو سوریایی عربو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ورکړې چې اوس په ترکیه کې کډوال دی. ترکیه غواړی په دی ډول د ترکیې او سوریې د کوردانو تر مینځ فاصله ایجاد کړی.
په معاصر منځنی ختیځ کې کوردان په پنځو مختلفو هیوادونو یعنی ترکیې، اوسنی ایران، عراق، سوریې او آزربایجان کی د نژادی او ژبنی اقلیت په توګه تیت او پرک ژوند کوی او له ۳۵ تر ۴۰ میلیونه نفوس سره سره په مینځنی ختیز کی یوازینی اولس دی چی د یو ځانګړی هیواد له تشکیلېدو نه محروم ساتل شوی.
د اروپایی لمړی نړیوالی جګړی په پای کی کله چی استعماری قوتونو وغوښتل د عثمانی امپراتوری مستملکات د نژادی هویتونو پر بنا د مصنوعی جغرافیایی پولو په محدوده کی د مستقلو هیوادونو په نامه په خپلو مینځو کی سره وویشی، نو د خپل مینځی رقابت په خاطر یی د خپل نظارت په ساحو کی د کوردستان په نامه دری دولتونه جوړ کړل.
۱- د ۱۹۲۰ کال د سیورز Treaty of Sevres د معاهدی له مخی د ترکیې د نوی جمهوریت په جنوب ختیز کی یو نیمه مستقل کوردستان وپېژندل شو، خو په ۱۹۲۳ کال کی د لوزان Treaty of Lausanne دمعاهدی له مخی د ترکیې حکومت له خپل پخوانی تعهد نه سر وغړاوه او ددغه کوردستان پولی یی ړنګی کړی.
۲- د آذربایجان په لوېدیز کی د نګورنو قرباغ او ارمنستان تر مینځ ساحه کی د روسانو تر نظارت لاندی په ۱۹۲۳ کال کی دوهم کوردستان یا «سور کوردستان» جوړ شو چی د نګورنو قرباغ د سیاسی کړکیچ په سبب په ۱۹۲۹ کال کی له آزربایجان سره منحل شو.
۳- له جګړی وروسته د انګریزانو د نظارت په ساحه کی د عراق شمال ته دریم کوردستان جوړ شو. خو کله چی په ۱۹۲۷ کی د کوردستان د کیرکوک په منطقه کی نفت کشف شول، انګریزانو غوښتل دغه نفت خیزه دریم کوردستان د پارس خلیج سره متصل په خپله استعماری قبضه کی وساتی ځو د نفتو په صادرولو کی د یو په وچه محاط کوردستان قلمرو جنجال ورته پیښ نکړی. نو ځکه یی دغه دریم کوردستان په عراق ورګډ کړ.
په دی توګه د کوردستان په نامه مستقل دولتونه یو په بل پسی له مینځه ویوړل شول او د کوردانو سیاسی هویت، نژاد، ژبه، او فرهنګ هسی له متداوم تهدید لاندی پاته شول.
د اتاترک په نوی عُرفی (سکولار) ترکی جمهوریت کی د کوردانو پر اریایی نژاد باندی د «غرنیو ترکانو» کاذب هویت تحمیل شو. په اوسنی ایران کی د کوردانو ژبنی هویت او اولسی دود او دستور د فارسی ژبی له فرهنګی استعمار لاندی ځپل کېږی. په عراق کی د کوردانو «غیرعربی توب» د صدام حسین په ژبه «انفال» یا غنیمت وبلل شول چی د کوردانو شتمنی د چور وړ وګرځېدی. اوس داعشیان د همدغه انفال یا غنیمت په نامه د مسلمانو او یزیدی کردانو په شتمنیو او انسانی کرامت تېری کوی. د سوریې په فرقه ای تضادونو کی د کوردانو توهین هیڅ په معادله کی نه راځی او په آزربایجان او مشهد کی کوردان بیخی ورک دی.
د کوردانو دغه حالت د پښتنو د دری سوه کاله پخوا تاریخ سره ډېر ورته والی لری. پښتانه هم د مغلی هند، صفوی پارس، او شیبانی اوزبیکو تر مینځ داسی را ایسار شوی و چه هر یو د خپل سیاسی رقیب پرضد استعمالول. پښتانه هم د کوردانو په څېر په غرنیو منطقو کی میشته و چی د خپلواکی ترلاسه کول ورته مشکل بریښېدل. پښتانه هم د خپلی آزادی غوښتنی د مشروع حق په ګناه د صفوی، مغلی، او شیبانی حکمرانانو او د هغو د پلویانو له خوا د ژبی، نژاد، قومیت، او مذهب په سبب د کوردانو په شان تحقیر او تمسخر کېدل. له دغو ورته والی سره سره دغه لاندی علتونه شته چی پښتانه یی د یو دولت په جوړولو کی بریالی کړل او متأسفانه کوردان لا تر اوسه په کی هلی ځلی کوی:
۱- د کوردستان د بشپړی خپلواکی د ترلاسه کولو په لار کی لوی خنډ دادی چی دوی باید اقلاً د ځلورو ګاونډیو هیوادونو له غښتیلو پوځی قوتونو سره و جنګیږی. د کوردستان غرنی ټاټوبی دوی ته د ګوریلای جګړو لپاره دفاعی پشتوانه کېدای شی، خو له هغو نه تعرضی ګټه نشی اخیستی ځکه چی ګوریلای جګړی تخریبی خاصیت لری، نه تعمیری او تشکیلی. له بلی خوا د کوردانو ګوریلای ډلی چی یوازی سپکی د لاس وسلی لری د خپلو سیاسی رقیبانو له درنو وسلو، ټانکونو، جنګی الوتکو، چورلکو، او زهری کیمیاوی وسلو سره په ډېره نابرابری کی لاس او ګریوان دی.
خو د پښتنو د آزادی د غورځنګونو په وخت کی جنګی وسایل توره او ټوپک و چی د متخاصمو ډلو تر مینځ یی چندان توپیر نه را مینځ ته کاوه. په جګړو کی د لښکرو شمېر موثر او مهم و او پښتو په آسانی سره داسی لښکری تیارولی شوای چی مقابل لوری ته د تدبیر او زور له مخی ماته ورکړی.
۲- د کوردانو په سیاسی سرنوشت کی نه یوازی ګاونډی هیوادونه لاس لری، بلکه لوېدیز استعماری هیوادونه هم د خپلو استعماری اهدافو په خاطر د کوردانو په سیاسی لوبو کی مداخله کوی او ددوی له ناعلاجی او پاکو احساساتو نه ناوړه استفاده کوی او هغوی د منطقی د نورو قوتونو په مقابل کی استعمالوی.
په دی پړاو کی د پښتنی غورځنګونو په وخت کی د لوېدیز استعمار لمنه په منطقه کی دومره نه وه خپره شوی. نو ځکه پښتنو وکولای شول چی له بهرنی مداخلی نه پرته خپله آزادی د سیاست د قلم او د جنګ د توری په زور لاس ته راوړی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

۳- په دغسی نامطلوبه شرایطو کی کوردان ریښتیانی ملګری نلری او هرڅوک یی د یو مقصد په خاطر په یو محدود وخت کی معمولاً نورو ته د لمسون په مقصد ملګری کیږی، خو په نهایت کی همغه د کوردانو متل صدق پیداکوی چی وایی: کوردان پرته له غرونو نور ملګری نلری.
د پښتنو د غورځنګ د بری مهم علت ممکن دا وی چی پښتنو ددغو غورځنګونو مشرتوب په غاړه درلود خو اقلاً په هرات او کندهار کی یی د نورو قومونو په همکاری خپلی مبارزی تنظیم کړی آن تر دی حده چی د اصفهان په فتحه کی نه یوازی دا چی پنځه زره هزاره او څلور زره بلوڅان د پښتنو په څنګ کی ودریدل، بلکه د کرمان مشرانو هم د پښتنو د مرستی په خاطر د صفوی حکومت ملاتړ و نکړ.
۴- د تیری پیړی په سر کی د کوردستان په نامه د دری ګونو هیوادونه جوړیدل قسماً د بهرنیو رقیبو هیوادونو د اهدافو او اغراضو له مخی و. له همدی کبله کله چی هغوی خپلو اهدافو ته ورسیدل، نور نو د کوردستان په غم کی نه و.
خو د پښتنو د خود ارادیت ځانګړی غورځنګونه د کوم بل بهرنی قدرت له لاس وهنی نه پرته د پښتونو په خپل ابتکار را مینځ ته شوی و. د پیر روښان روشانیه غورځنګ چی د تصوف د طریقت له لاری یی د مغلی هند په مقابل کی خپل مشروعیت وساته، د اکوړی حکومت چی د خوشحال خان خټک د ادبی او پوځی تدبیر نه الهام او قوت اخیست، د هرات د ابدالیو حکومت چی د شیبانیانو او صفویانو پر ضد د خپل سیاسی استقلال په خاطر را پاڅیدل، او د کندهار هوتکو چی د ګورګین او صفویانو د ظلم و تادا د له مینځه وړلو په نیت یی تاړه وکړه. دغه پښتنی غورځنګونه بلاخره هسی بریالی شول چی نه یوازی یی رقیبی امپراتوریانی را و پرځولی، بلکه د هغو پر ځای یی د نورو قومونو په مرسته د لوی افغانستان دُرانی امپراتوری جوړه کړی.
کوردان له داسی یو لوی چلنج سره مخامخ دی چی له یوی خوا نړیوال سیاست پر یو اروپامرکزی محور راڅرخی چی د منځنی ختیز هیوادونه او اولسونه په حاشیه کی واقع شوی، له بلی خوا د منطقی د سیاست په پرتله کوردان په نیابتی جګړو کی محض د تلی د پانګی حیثیت پیدا کوی او بس. په داسی حالت کی مسلط نړیوال ذهنیت ممکن له کوردانو سره په ترحم او زړه سواندی کی سر وخوځوی، خو کله چی سیاسی او اقتصادی ګټی مطرح وی یوازی ترحم ځای نه نیسی. نو ځکه روان نړیوال سیاست خپلی ګټی له ترکیې، اوسنی ایران، عراق، او سوریی سره وینی، نه له کوردانو سره. د یو ځانګړی او خپلواک کوردستان جوړیدل باید یوه نړیوال بنیادی ذهنی بدلون ته انتظار وباسی.
*زمان ستانیزی د کلیفورنیا په دولتی پوهنتون کی د سیاسی علومو استاد دی

لومړی: د (( کُرد )) کلمه چي ښاغلي ستانیزي په خپله لیکنه کې د (( کورد )) په بڼه لیکلي ده. که څېرې موږ د پارسي او پښتو ژبې په اوسني او پخوانیو لیکنو کې د ((کُرد)) د کلمې پلټنه او څېړنه وکړو، نو نوموړې کلمه د (( ک ) په پېښ پرته له (( و )) څخه کارول شوې ده. بله دا چې که چېرې موږ د وېپانګې له مخې د (( کورد او کُرد )) د کلمو معناوې وپلټو، نو یوازې د ((کُرد)) کلمه د معنا وړ ده او (( کورد )) یوه بې معنا کلمه ده، چې په وېپانګو کې هم د لغت په توګه نه موندل کیږي. که چېرې و موندل هم شي، نو داسې یوه معنا وړاندې کوي،د ستانیزي له لیکنې سره هېڅ اړ نه لګوي. اوس غواړم د (( کُرد )) کلمه په پخوانیو پارسي متنونو، اشعارو او وېپانګو کې وپلټم، چې په کومه بڼه کارول شوې ده او تاسو ته یې سمه بڼه در وپېژنم :
۱. کورد (cord): د لرګیو د اندازه کولو یو ډول آله. (دانشنامه آزاد پارسی). په فارس کې د یو ښهرګ نوم دی.
۲. کُرد: نام طایفه ای است مشهور از صرانشینان و ایشان در زمان ضحاک پیدا شدند.( برهان ). ج، آکراد جد انها کردین عمرو مزیقا بن عامر بن ما السما نسبهم اشهرا آلی الیمن ثم الی الازد قال:
لعمرک ما کردین عمر و بن عامر

بعجم ولکن خالط العجم فاعتجم.
قومی آریایی که در ایران غربی و ترکیه و عراق سکونت دارند.... اوس دلته د هغو پخوانیو فارسي شاعرانو شعرونه د بېلګې په توګه راوړم، چې د کرد کلمه یې په خپلو شعرونو کې کارولې ده.

یکی کار بد خوار و دشوار گشت
اباد کـرد کشور همـه یـار گشت
فردوسی

محمد اعرابی می آمد تا به آموی بایستد با لشکر کرد( تاریخ بیهقی )


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کرد زه گم کرده بودم در فراق صدرتو
کرد ره گم کرده را جاهت به ره آورد باز
فردوسی

کآن عـدد راهـم خدا دانـد شـمرد
ازعرب وزترک وز رومی و کرد
سوزنی

از زخت و کیای خویش من رفتم و پردختم
چون کـرد بمـاندستم تـنها مـن و این باهو
مولوی

بـینیت همی بـینم چون خـانـه کـردان
آراسته همواره به شیراز و به رخبین
رودکی

بخارا خوشتر از لوکر خداوندا همی دانی
ولـیکـن کـرد نـشکیبد ازیـن دوغ بیابانی
سعدی

( دهخدا )

پورته اشعارو او وېپانګو ته په کتوسره د(( کُرد )) کلمه د (( ک )) په پېښ سره کارول شوې ده، چې د يو ټبر، قبيلې او نژاد معنا ورکوي، دا هغه ټبر دی، چې د عراق، سوريې، ايران او ترکيې په سيمو کې ژوند کوي او له آره نوموړی قوم آريايي دی. خو بناغلي زمان ستانيزي نوموړې کلمه د (( کورد)) په بڼه په خپلې ليکنې کې کارولې ده. چې په وېپانګو کې د لرګيو د اندازه کولو په معنا کارول شوې ده... خو په ليکنه کې د ستانيزي صاحب موخه هماغه کردان دي.

دويم : بناغلي ستانيزي په خپله ليکنه کې (( ناميالي )) د (( نوميالیانو )) په بڼه کارولې ده. مونږ د پښتو ژبې په ګرامري قواعدو کې د نرمې (ی) جمع په څرګندې (ي) سره کو. خو په کندهاری لهجه کې د نرمې ( ی ) جمع په ( ان ) سره هم ترسره کوي. لکه: سړی = سړيان، منګی منګيان. ددې ترڅنګ په کندهاری لهجه کې د پښتو ژبې د معياري ګرامري قواعدو خلاف، هغه نومونه چې په بېواکه توري پای ته رسېدلي وي هم د ( ان ) په روستاړي سره جمع کوي.لکه: تاک= تاکان، موټر= موټران... دا په داسې حال کې ده، چې مونږ په خپلو ګرامري قواعدو کې هغه نوم چې په بېواکه توري پای ته رسېدلی وي، د (ونه) په روستاړي سره جمع کو. لکه: تاک = تاکونه، موټر = موټرونه... بناغلي ستانيزي هم په خپله ليکنه کې، کندهاری لهجوي قاعده پاللې ده. دا کار په لوستلو کې د نورو سيمو لوستونکو ته د آهنګ او تلفظ په لحاظ ستونزې جوړوي او ترڅنګ يې په يوه رسمي ليکنه کې د معياري ګرامري قواعدو خلاف عمل دی. دغه کار ليکوالان له دوو اړخونو څخه ترسره کوي. لومړی: هغه ليکوالان چې د کندهاری لهجې په سيمو کې زېږېدلي وي. دويم: هغه کسان چې د پښتو ژبې له ګرامري قواعد څخه ناخبر وي. داچې ستانيزی صاحب د کندهاری لهجې په سيمو کې نه دی زېږېدلی او پخپله ليکنه کې يې دا ډول لهجه پاللې ده، نو کېداشي نوموړی د پښتو ژبې له ګرامر او ژبپوهنې څخه مطالعه ونه لري. د حېرانتيا خبره داده، چې ما د داکتر زمان ستانيزي د څو ليکنو په پای کې لوستي دي، چې دی ځان د ژبپوهنې مختصص او داکتر ګڼي. نو کره نه ده ، چې ستانيزي څنګه؟ چېرته؟ او څه ډول د ژبپوهنې تخصص تر لاسه کړ، چې دخپلې ژبې له ګرامري قواعدو ناخبره دی.

درېيم: پښتو ژبه (۸) ځانګړي،(۷) خپلواک يا واول او دوه، نيم خپلواک توري لري. په پښتو ژبه کې واول يا خپلواک هغه توري دي، چې د پښتو ژبې مذکر و مونث، مغيره حالت، د کلمو جمع... داسې نورې چارې د همدغو ياګانو له مخې پېژندل کيږي. د بېلګې په توګه : هغه راغی. ( مذکر ) او هغه راغله ( مونث ). د پښتو ژبې دوه خپلواک توري د همدې ژبې دوه ياګانې ( ي او ې ) دي. ددې ترڅنګ دوه نور واولونه يې ( ه او زورکی ) دی. که چېرې دغه توري پخپل ځای ونه کارول شي، معانيزې تېروتنې را منځته کوي. د بېلګې په توګه: ((صافی)) د يو ټبر نوم دی، که چېرې مونږ ددغې کلمې په پای کې د نرمې (ی) پر ځای څرګنده ( ي ) وکاروو، لکه: ((صافي)) نو په دغه صورت کې نوموړې کلمه د قوم پر ځای د لوښو او څېزونو د پاکول د توټې يا زړوکي معنا ورکوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تاسو وګورئ چې په پښتو ژبه کې د يوې يا ناسمه کارونه څومره لويه تېروتنه را منځته کوي. خو ښاغلي زمان ستانيزي پخپله ليکنه کې د پښتو ژبې ډېرى يعنې (۹۵) سلنه واول يا خپلواک توري ناسم کارولي دي. زه په دغه برخه کې د لاښه وضاحت په موخه د ښاغلي ستانيزي د ليکنې يوه برخه تاسو ته کټ مټ راوړم. (( له بلی خوا د کوردانو هويت هميشه د پارسی، ترکی، او عربی مجاورو اولسونو له تاثير،تبعيض، تهديد او حتی تحقير او سپکاوی لاندی لاس او پښی وهلی.)). زه غواړم ګرانو لوستونکو ته د ستانيزي صاحب د پورته ليکنې سمه بڼه وليکم، ترڅو لوستونکي د موضوع تل ته ورکښته شي. (( لهٔ بلې خوا د کُردانو هويت هميشه د پارسي، ترکي او عربي مجاورو ولسونو لهٔ تاثير، تبعيض، تهديد او حتی تحقير او سپکاوي لاندې لاس و پښې وهلې. )) ګران لوستونکي، په ځانګړې توګه د ژبپوهنې متخصصين دې پورته دواړه ليکنې سره پرتله کړي، چې څومره تېروتنې په کې تر سترګو کيږي.

خو ستانيزي صاحب خپله تولله ليکنه په همدې بڼه ليکلې ده، چې (۹۵)سلنه ګرامري تېروتنې لري. دا په داسې حال کې ده، چې ښاغلی ستانيزی د پښتو ژبې د ليکوال او ژبپوه په توګه د سياسنګ او نورو دري ژبو ليکوالو د ليکنو پر وړاندې د پښتو ژبې پر پلوي ځوابيه ليکنې کړي دي. په حقيقت کې دستانيزي صاحب دا ډول ځوابيه ليکنې د پښتو ژبې او يو پښتون ليکوال پر پوهې او د ژبې په بډايتوب دلالت نه کوي، بلکې د ليکوال پر ناپوهی او د نوموړي ژبې د ګرامر او ګرامري قواعدو پر نشتون دلالت کوي. ځکه که چېرې سياسنګ او دې ورته نور خراسانيان د پښتو ژبې په لرغونتوب او د نوموړي ژبې پر شاعرانو او ليکوالو په خپله ژبه ( دري، پارسي ) کره کتنيزې ليکنې کوي! نو هغوی د خپلې ژبې پر ګرامري قواعدو بشپړ حاکميت او لاس بري دي. مګر ستانيزی صاحب خلکو ته له داسې دريځ څخه ځان د پښتو ژبې ستر ليکوال او د نوموړي ژبې د ژبپوه په توګه ور پيژني، چې هره ليکنه يې (۹۵)سلنه ګرامري تېروتنې لري. پورته بېلګه يې (( مشت نمونه ای خروار )) ومنئ.

خلورم: په يوه ژبه کې نامانوسه او ګونګې کلمې او ترکيبونه د يوې ژبې وېيانګې او معيار ته سخت زيان رسوي. ځکه همدا نامانوسه او ګونګې کلمې او ترکيبونه پر لوستونکو تحميليږي، کله چې يو نوی فارغ شوی محصل د يوې مقالې په ليکنې لاس پورې کوي او د يو ليکوال له ليکنې کټه پورته کوي، نو که چېرې نوموړي ليکوال په خپله ليکنه کې ناموسې کلمې او ترکيبونه کارولي وي، نو يو محصل د معانيزې او نامانوسې کلمې ترمنځ د توپير جوګه نه وي، نو اجالتاً يادې کلمې او ترکيبونه په هماغه بڼه په خپلې ليکنې کې را اخلي، چې دا کار پر يوې ژبې د نورو ژبو او فرهنګونو د تحميل لپاره لاره هواره وي. د داکټر زمان ستانيزي په ليکنو کې هم ډېرې نامانوسې کلمې او ترکيبونه کارول شوي دي. زه يې دلته يو نامونس ترکيب د بېلګې په توګه تاسو ته وړاندې کوم: د دويم پاراګراف لومړی کرښه . (( د کوردانو تاريخ د غم د قلم په رنګ ليکل شوی.)) تاسو پورته ترکيب ته ښه ځير شئ! ستانيزي صاحب کلمې په داسې ډول سره اوبدلې، چې هېڅ نحوي جوړښت او همرنګي سره نه لري. حتا موږ ورته بدلې ترکيب هم نشو ويلی. موږ کولی شو، د ياد ترکيب پرځای (( د غم په قلم...)) او دې ته ورته نور ترکيبونه وکارو. په يوه ژبه کې ليکوالان دا ډول ترکيبونه په څو لاملونو سره کاروي. لومړی: په ميخانيکي ژباړه کې... دويم: په يوه ژبه کې د پوهې د نه درلودلو په صورت کې... درېيم: د کاذبه شهرت او ځان ښودنې په موخه...څلورم: د هنريت په موخه... او داسې نورو لاملونو په موخه دا ډول ترکيبونه او نامانوسې کلمې کارول کيږي. زما په آند ښاغلی ستانيزی يې په دوو لاملونو دا ډول ترکيبونه کاروي. لومړی: کېداشي دا ليکنه يې خپله نه وي او را ژباړلې يې وي، ځکه په نوموړې ليکنه کې د ليکوالی هېڅ اصول نه دي مراعات شوي، هغه دا چې هره معياري ليکنه، اخذ ليکونه او اقتباسات... لري، مګر د ستانيزی صاحب ليکنه، نه اقتباسات لري او نه هم ماخذونه. نو د نامانوسو ترکيبونو ترڅنګ، يې په ليکنه کې د ماخذ او اقتباس نه کارونه زموږ باور پر دې زباتوي چې د نوموړي ليکنې ليکونکی ستانيزی نه، بلکې بل څوک دی. دويم: زما په آند ستانيزی صاحب ځکه دا ډول کلمې او ترکيبونه په خپلو ليکنو کې ډېرې کاروي، چې هغه په پښتو ژبه کې يوه سطحي مطالعه لري او د دري ژبې تاثيرات پر دومره زور دي، چې د پښتو ژبې په املا او انشا کې هم تېروتنه کوي، نو ځکه پښتو نحوي ترکيبونه نشي جوړولی....

پنځم: په ليک او لوست کې تر ټولو خورا مهمه مسئله په ليکنه کې د يوې کلمې سم ليکل او سم لوستل دي، چې زموږ ډېرى ليکوالان دغي برخې ته هېڅ پاملرنه نه کوي، دا پر هماغه ژبې د يو ليکوال پر نه پوهاوي او د ارزښت په نه درلودلو دلالت کوي. ښاغلي زمان ستانيزي هم په ليکنه کې ( ۹۰ ) سلنه وييونه ( کلمې ) په سمه بڼه نه دي ليکلې. دلته يې يو څو بېلګې تاسو ته وړاندې کوم: الف: ښاغلي ستانيز د (( لومړی )) کلمه د (( لمړی )) په بڼه ليکلې ده... ب : د (( منځ)) کلمه يې د (( مينځ )) په بڼه ليکلې ده... ج : د (( ختيځ او لويديځ)) کلمې يې د (( ختيز او لويديز )) په بڼه ليکلې دي... د: د(( هماغه )) نومځری د (( همغه)) په بڼه کارولې ده... او داسې ډېرې نورې کلمې شته، په خپلې اصلي بڼې نه دي ليکل شوي. دا کار په لوی لاس يوې ژبې او خپل شخصيت ته سپکاوی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شپېږم: موږ په ليکنه کې تل هڅه کوو، چې عمومي ترمينالوژي مراعات کړو، موږ مستعار وييونه هغه وخت کاروو چې د يوې کلمې معادل لغت موږ په خپله ژبه کې ونه لرو او يا هم د خلکو تر منځ عام نه وي. خو ښآغلي ستانيزي په خپله ليکنه کې يوازې تش په نوم پښتو ژبه کارولې ده. لکه څنګه مې چې پورته يادونه وکړه نوموړي په خپلو ليکنو کې پښتو خپلواک توري سم نه دي کارولي، نو په همدې شان يې يوازې تش په نوم پښتو ليکنه کړې، چې په هغه کې يې تقريباً ( ۵۰ ) سلنه پښتو ژبه په داسې توګه کارولې چې ډېرى کلمې يې املايي تېروتنې لري. ددې ترڅنګ يې د ورځنۍ عامې مهاورې د وييونو پرځاى د دري ژبې وييونه کارولي دي. دا کار په لوی لاس خپله ژبه د نورو ژبو له سياليو څخه محرومه کول او د هغې د پرمختګ په ځانګړې توګه په ژبه کې د نيولوګيزم مخه ډپ کوي. زه دلته مشت نمونه اى خروار تاسوته يو څو بېلګې وړاندې کوم: (( سبب، هميشه، مجاور، رقيب،فاصله، نژاد، نظارت، تعهد، منطقه،علت...)) دې ورته په لس ګونو د داسې عامو کلمو پرځاى يې د نورو ژبو کلمې کارولي، چې په لوستلو کې اصلاً دا احساس نه کيږي، چې دا دې پښتو ليکنه وي. حال دا چې موږ د پورته(( لامل، تل، ګاونډى، سيال، واټن، توکم، څارنه، ژمنه، سيمه، )) او درې ورته نورو وييونو لپاره خپل وييونه لرو او بايد هغه وکارو ترڅو زموږ دژبې وېپانګه بډايه او ورځنۍ مهاورو کې تېول ورسره اشناشي. مګر داکتر صاحب زمان ستانيزى چې خپله پښتون دى او ځان د پښتو ژبې لوى خدمتګار او متخصص هم ګڼي، خو په پښتو ژبه حاکميت نه لري... دا په داسې حال کې ده، چې دى د پښتو ژبې له ادرس څخه په سياسنګ او نورو خراسانيانو نيوکې او کره کتنيزې ځوابيه ليکنې هم کوي.... کيداى شي ځينو لوستونکو ته دا پوښتنه را منځته شي، چې موږ په بايد پښتو ليکنيزې چارې ستونزمنې نه کړو او بايد عام وييونه وکارو. زما ځواب ورته دادى: که تاسو د درې، انګليسي او نورو ژبو ليکوالو د ليکوالو ليکنو ته ځير شئ، هغوى ترډېره هڅه کوي چې دخپلې ژبې کلمې وکاروي او خپله ژبه د بپانګې له اړخه بډايه کړي، نو موږ ته هم په کار ده، چې ورته عمل وکړو.

اووم: په ياده ليکنه کې له تاريخي پلوه ډېرې تېروتنې، ستونزې او افسانې موجودې دي، دا چې زما ښوونيز مسلک تاريخ نه دى، نو ځانته دا اجازه نه ورکوم چې، په تاريخي برخه يې کره کتنه وکړم. زه دهېواد له مؤرخينو څخه هيله کوم چې د دا ډول اشخاصو پر ليکنو بيا کتنه وکړي، ترڅو په تاريخ له خيانت او غلا څخه مخنيوى وشي....

پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ